سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۵/۰۷/۳۰

# د طالبانو مشر ملا محمد عمر ارواح

### سرچینه: د المان شپیګل انلاین او فرانکفورته الګمینه څیتونګ

ایا واقعاً د طالبانو مشر ملا محمد عمر مړ شوي دی؟
د افغانستان او پاکستان حکومتي سرچینې د ملا محمد عمر مړینه تاییدوي، طالبان یې په کلکه ردوي. کیدای شي، چې دغه خبرونه د واک د لاسته راوړنې لپاره د جګړې یوه برخه وي.
دغه څرګندوني شکمني بریښي: چې د طالبانو مشر ملا محمد عمر مړ شوي دی او احتمالاً ملا عمر دوه کاله وړاندې د طالب د قوماندانو په یوه خپلمنځي جګړه کې وژل شوي دی او یا د یوې ناروغی له کبله وفات شوي دی .دغه خبرونه د پاکستاني او افغان ملي امنیتي ادارو سرچینو له خوا ورکول کیږي. د دې سره سره دغه اطلاعات یواځې توکي د موخې لپاره دي. ځکه طالبان په خپلو کې اختلاف لري، دوی په ډلو ډلو سره ویشل شوي دي او د لنډ وخت راهیسي دوی د اسلامي دولت له ترهګرې ملیشو سره هم په جګړه کې اخته شوي دي.
کیداې شي د مړینې خبر یواځې د یو نوې قدرت د لاسته راوني لپاره یوه لاره خلاصه کړي. او یا کیداې شي د طالبانو او افغان حکومت د استازو ترمنځ د سولې په خبرو اترو کې یو خنډ واقع شي. د سولې خبرې اترې د جولاې په میاشت کې پیل شوي او بلاخره د جولاې په پنځلسمه نېټه یو پیغام خپروشو، چې په هغه کې ملا محمد عمر د مذاکراتو هرکلي کړي وو.
د طالبانو یو ویاند د مړینې دغه نوې خپاره شوي اطلاعات یو ځل بیا په کله رد کړل او دغه راپوورنه یې یواځې شایعه، بې بنسټه او د دښمن زهرجن تبلیغات وبلل.
پاکستاني خبریال رحیم الله یوسفزی هم دغه راپورونه، چې ملا عمر مړ شوي دی، د طالبانو څخه د یوې بېلې شوي ډلي په نامه د،، فدایي محاز،، یوه هڅه بولي، دوی غواړي خپل قدرت ته نور ځواک وروبښي. رحیم الله یوسفزی په پاکستاني ورځپانه نیوز کې لیکي،، دوی باید شواهد او یو ثبوت وړاندې کړي، چې ملا محمد عمر وژل شوي دی، دی یواځینې خبریال دی،چې د ملامحمد عمر سره خبرې کړي دي.
دغه سړی څوک دی، چې اوس مړ شوي دی ؟ اوڅنګه دی د طالبانو مشرتوب او لارښوونه کوي؟
اټکل شل کاله مخکې یو دم دا ویرونکي ځوان سړي را پیدا شو، د ۱۹۹۴ کال په منی کې دی د یو کلاشینکوف او راکټینجر سره لیدل شوي دی. دا مهال د ده په مشرۍ باندې څوک نه پوهیده.
په ۱۹۸۹ کال کې ده د روسانو سره په یوه جګړه کې خپله یوه سترګه له لاسه ورکړه. کله چې ده ته په نږدې واټن کې یو توغندي ولګیدو او یوه وړه برخه په ده باندې ولګیده. ملا عمر د ۱۹۵۹ او یا۱۹۶۰ کالونو په منځ کې زیږیدلی دی. ده خپل ماشومتوب او د ځواني دوره د پاکستان د سرحدي سیمو په دیني مدرسو کې تیره کړي ده.

## له عمر څخه ،،د مؤمنانوسلطان،، جوړشو

ده د علمأ کرامو په یوې غونده کې لکه د مقدسوخلکو په شان ځان ته د مسلمانانو د مذهبي مشر لقب ورکړو. د ۱۹۹۶ کال اپریل کې دی د افغانستان په سویلي ښار کندهار کې د توري لونګۍ او توری اوږدې ګنې زیري سره او تر ځان یو پټو یا څادر راتاو کړي وه، یوه بام ته پورته کیږي او نور خلکو د تورو لونګیو سره ملا عمر ته په ډیر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

عزت او درنښت کتلو او یو یو به ورته د تعظیم کولو په حالت کې لیدل کیده. دغه پټو یا څادر د حضرت محمد (ص) چپنه وه. همدا مهال ملا عمر ځان ،،امیرالمؤمنین،، یا د. مؤمنانو مشر. ونومولو .
په طالبانو کې یوه خبره ګډه شوې وه، چې ملا عمر په خوب کې حضرت محمد(ص) لیدلی او ده ته په افغانستان کې د سولې راوستو دنده ورسپارلې شوې او دی باید د سولې پالنه وکړي.
ملا عمر د کمونیستانو او مفسدو جنګسالارنو څخه ډیره سخته کرکه لري، له هغو سره څخه چې دوی د۱۹۸۹ کالونوکې د پخواني شوروي اتحاد په وړاندې له بریالي جهاد څخه ورسته په خپلو کې په جنګ جګړو اخته شول او هیواد یې په کورني جګړه کې راګیر کړو. دا مهال ملا عمر ځوان سخندریځه جنګیالي پر خپل ځان را ټول کړل. افغانستان کې په کافي اندازه وسلې شتون درلود. دوی د سعودي عربستان او د امریکا متحدو ایالاتو په مالي مرستو تمویل شول د دوی ډیرې جنګیالي د پاکستان د اې ایس اې لخوا ان د شوروي اتحاد د برغل پر مهال رزول شوي وو. ډیرې افغانان جنګ جګړو ډیر سخت ځپلي وو او د فساد، نا امني څخه پوزې ته راغلي وو، دوی د طالبانو سره په خوښه یو ځای شول. په ۱۹۹۶ کال کې بنسټپالو طالبانو پرته له کوم مقاومت څخه نږدې ټول افغانستان د پلازمینې کابل سره یوځای تر خپل کنټرول لاندې راوست.
دغه سړی ملا عمر، چې د هیواد د سولې سیمو له یو بې وزله کلي څخه راغلې وه، اوس نو دی رسماً د حکومت مشر وټاکل شو. چیرته چې نجلې ښوونځویو ته نه تللې، ښځې یواځې په بورقو کې ګرځیدلې، دلته یواځې د شریعت قانون حکم چلیده. ده خلک په سپورتي لوبغالي کې اعدام کړل. د هغو مسلمانانو د ډله ییزو وژنو اجازه ورکړه، چې دوی د طالبانو د اسلامي قوانینو سختدریځه تصوراتو ته سر نه ټیتولو. په ۱۹۹۸ کال د اګست میاشت په مزاري شریف کې د هزاره شیعه مسلمانان د وژلو امر یې ورکړو. طالبانو دوه ورځې هر څوک، چې په سړکونو کې لیدل کیده وژل.

## د تلوالې یو اپیل یا یوه غوښتنه

ملا عمر اوسامه بن لادن ته پناه ورکړه، بن لادن د سعودي عرب څخه افغانستان ته مجموعاً په میلیونونو ډالر راوړې وو.تر څو دی د روسانو پر وړاندې جهاد کې برخه واخلي. کله چې واشنګټن د یوولسم د سپتمبر د ترهګریزو بریدنو څخه ورسته د بن لادن د ورسپالو غوښتنه وکړه، ملا عمر د همکاریو څخه ډډه وکړه .
یوه ورځ مخکې له دې، چې د امریکې متحده ایالات په افغانستان باندې د هوایي بمبارې برید پیل کړي، ده خپلو خلکو ته د اتلوالي خوخبرې وکړې: ،، زه پوهیږم، چې زما واک، زما پوزیشن، زما کورنی له ګواښ سره مخامخ دي.اما زه دې ته تیاریم، چې ځان قربان کړم، زه نه غواړم، چې د یو نا مسلمان ملګري شم، ځکه دوی زما د ایمان، عقیدې او زما د مذهب مخالفان دي. زه په دې ویاړم، چې ځان قربان کوم او تاسو هم داسې وکړی ،،
له دې خبرو څخه ورسته دی په یوه موټرسیکل سپورشو او له کندهاره احتمالاً د پاکستان په لوري ولاړو. او له همدې مهاله بیا تر اوسه چا دی ندی لیدلی. ډیر ځلي راپوروونه راغلل، چې دی د متحده ایالاتو د بې پیلوټه الوتکو په برید کې وژل شوي دی. او یا په یوه ناروغې کې مړ شوي دی.
ولې هر ځلې طالبانو دغسې راپوروونه په کلکه رد کړي دي.
ویل کیږي، چې ملا عمر د افغانستان او پاکستا ن ترمنځ تګ راتګ کوي او د ۲۰۰۲ کال په پای کې  ده د پاکستان د کوټې ښار کې د طالبانو شورا د مشرې بنسټ کیښود. د ده جګړه په افغانستان کې د لویدیځوالو د لښکرو په وړاندې ده. کله چې په ۲۰۰۹ کال کې د امریکې متحده ایالاتو د طالبانو سره ډیالوګ یا خبرو اترو هڅه وکړه. ملا عمر بیا خبرې اترې رد کړې او وسله وال مقاومت ته دوام ورکړو .

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

# د ملاعمر مړینه یا د ارواح مرګ

سرچینه: د المان فرانکفورته الګمینه څیتونګ
لیکواله: اغلې فدریکه بوګه

د ملا عمر د مړینې خبرونه یو ناڅاپه او غیرمتراقبه نه دي را څرګند شوي. ډېر څلې دی مړ شوي اعلان شوي دی، لکه څنګه چې دی پرون مړ اعلان شو. د دغې خبر د خپریدو کټي اخیستونکې بېلا بېلې ډلې دي.
د اوسني تازه خبرونو څخه مخکې هم له ډېر موې راهیسې د طالبانو د مشر د مړینې خبرونه اوریدل کیدل. په دې ورستیو کې ډېرو طالب قوماندانو ته دا ګرانه تمامیده، چې د اسرارو څخه ډک او اسطوروي شخصیت ملا عمر نه ګته پورته کړي .هیڅ چا نه غوښتل او نشو کولې، چې داسې ګونګوسې خپرې کړي او د مشر ملا په اتوریتې باندې نوکان ولګوي.
ملا عمر په کال کې دوه څلې د مسلمانانو د دیني مبارکو ورځو پر مهال لیکلې پیغامونه او اعلامې خپرولې، ورستې پیغام د کمکی اختر څخه دوه اوونی وړاندې خپرو شو. په دې اعلامیه کې ده د سولې خبرو اترو ته هرکلې ویلې وه او ولسمشر محمد اشراف غني هم څو څلې د ده د خبرو او پیغام تود هرکلې وکړو.

## پاکستا ن یو څلې بیا یوه لویه تیروتنه، د اعتماد او باور سرغړونه وکړه

افغان ولسمشر تېره چارشنبې اعلان وکړو، چې ملا عمر دوه کاله وړاندې مړ شوي دی.د کابل د ملي امنیت یو ویاند یوه بله خبره هم وزیاته کړه، چې ملا عمر د پاکستان د کراچې ښار په یوه روغتون کې مړ شوي دی.
که پاکستان دغه خبر او معلومات دوه کاله د افغان له حکومت څخه پټ ساتلي وي، دا به د پاکستان یوه لویه غلطي او تیروتنه وي. کابل تر اوسه په دې برخه کې هیڅ څه نه دي ویلي، چې ولې د پاکستان له خوا د مړینې اطلاعات د دوو کالونو څنډ څخه ورسته اوس خپاره کیږي.
د تعجب وړ خبره د مړینې د خبر خپریدو وخت دی، د طالبانو له نسګوریدو څخه څورلس کاله راورسته یعني دوه اوونی وړاندې په پاکستان کې د کابل حکومت او طالبانو استازو ترمنځ رسمي خبرې اترې تر سره شوې. د خبرو په پای کې د طالبانو ترمنځ اختلافات را څرګند شول. د طالبانو په یوه ویبپانه کې یو خبر خپور شو او لړه شیبه ورسته بیا ړنګ کړل شو.
کارپوهان لکه پاکستاني خبریال رحیم الله یوسفزی وایي، د طالبانو د لومړي او دوهم نمبر کسانو ترمنځ د واک پر سر اختلافات رامنځته شوي دي. اختلاف د ملا اختر منصور او د ملا عمر مشر زوي ترمنځ دی. ملا یعقوب تیر کال د دیني مدرسي څخه فارغ شوي، دی اوس غواړي د خپل پلار ځای ناستي شي،یوسفزی ده نیوز ورځپانه . کې لیکي .
ملا منصور د سولې د بهیر پلوي دی، دا هغه کس دی، چې لږ ترلږه د پاکستان د فشار له امله خبروته کینټول شوي دی. افغان حکومت وویل، د طالبانو استازي د ملا منصور له خوا د مري ښارګوټي ته د خبرو اترو لپاره رالیږل شوي وو.
د دوی په مقابل او مخالفت کې د ملامحمد عمر شا خوا نور کسان دي او له دې جملې څخه د طالبانو پوځي مشر ملا عبدالقیوم ذاکر راځي، دی د سولې مذاکراتواو خبرې اترې رد وي، دی د جګړې په لار او پوځي بري باندې درومي.
د دواړو ترمنځ کړکیچ د قبایلو په سیمه کې روان دي. ان هغو طالب مشران چې په قطر کې سیاسي دفتر لري او د دوی سیاسي شتون د کابل له خوا په رسمیت نه دی پیژندل شوي، په رسنیو کې د اسلام اباد مذاکراتو ته په ښه سترګه نه دي کتلي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ځکه پاکستان ډیره موده د طالبانو ملاتړ کړي او دوی په پاکستان کې میشت دي. دا به د دې ډلې لپاره ډیره ګرانه وي، په خوښه او انتړس کې به نه وي، چې د افغانستان برخلیک د یو داسې منفور هیواد او له کرکې ډک پاکستان له خوا تر سره شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ